**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

**د ایران حکام؛ یوازې تبلیغات او نمایشي کارونه کوي چې د نصرت او ازادۍ هېڅ تمه نه شي ترې کېدی**

**(ژباړه)**

د ایران د سپاه پاسداران قوماندان، سردار حسین سلامي، د «نصرالله» په نامه د جګړه‌ییزو او امنیتي تمرینونو د پرانیستې پر مهال وویل: «صهیونیستي رژیم که په دې فکر کې وي چې د حزب‌الله د قوماندانانو په ترور دغه خوځښت له صحنې ایستلی شي؛ لویه تېروتنه کوي». هغه زیاته کړه: «حزب‌الله یو ستر او نه ماتېدونکی جریان دی چې د خاموشېدو یا د له منځه تلو تصور یې ناشونی دی». نوموړي یهودي رژیم ته په خطاب کې وویل: «موږ نن تاسو څارو، تر پایه به درسره جګړه کوو او هېڅکله به پرې نه ږدو چې د مسلمانانو برخلیک ستاسو په لاس کې وي. موږ به خپل غچ واخلو، سخت ګوزارونه به دربانديې وکړو او عواقبو ته یې منتظر اوسئ.»

په دې توګه، د ایران مشران په بې شرمۍ د غاصب او جنایتکار یهودي رژیم پر وړاندې خپلو د ګواښ نمایشي خبرو ته دوام ورکوي؛ په داسې حال کې چې د دغو جرمونو د مخنیوي یا د فلسطین مسلې ته د جدي رسیدګۍ لپاره هېڅ عملي اقدام نه لري. هر د بصیرت خاوند ته ښکاره شوې ده چې دغه مشران دروغجن او فریبکار دي؛ ځکه هغوی یهودانو ته اجازه ورکړه چې د غزې سیمه تر ډېره وخته په خپلو بریدونو ویجاړه کړي، تر دې چې په کنډوالو بدله شوه.

په دغې وحشیانه جګړه کې تر ۱۴٦ زرو ډېرو کسان شهیدان یا ټپیان شول، چې ډېری یې ماشومان او ښځې دي. تر ۱۰ زرو زیات کسان لاهم ورک دي. سره له دې، دغو مشرانو هېڅ د غیرت یا مسولیت احساس ونه کړ چې د دغو مظلومو خلکو د مرستې لپاره ګام واخلي، بلکې هغوی یې یوازې پرېښودل چې د یهودو، امریکا، بریتانیې، جرمني او نورو استعماري او استکباري هېوادونو پر وړاندې یوازې په خپلو وینو کې لت پت وي.

تر دې وروسته، یهودي رژیم پر لبنان او د بیروت په سویل کې د ایران ملاتړ لرونکې حزب‌الله ډله باندې وحشیانه بریدونه وکړل او د دغې ډلې لومړۍ او دویمه درجه قوماندانان یې ووژل. خو ایران دغه ډله یوازې پرېښوده چې د یهودو د پوځ، جنګي الوتکو، ویجاړوونکو او وژونکو بمونو او مرګونو توغندیو پر وړاندې یوازې مقابله وکړي. نه یې ملاتړ وکړ او نه یې مرسته؛ بلکې د ذلت او رسوایۍ په ډګر کې یې یوازې پرېښوده.

اوس هم د ایران مشران په تشو خبرو او پوچو ګواښونو بوخت دي، داسې ښکاري لکه چې یوازې یوه نمایشي لوبه کوي. د دوی څرګندونې پرته له دې چې دښمن ته زیان ورسوي یا کوم برید ودروي، یوازې تبلیغاتي پیغامونه دي.

د فلسطین او لبنان حق پر ایران ډېر دروند دی. فلسطین دا حق لري چې د پوځونو ټول امکانات، له الوتکو او توغندیو نیولې، تر ډرون الوتکو او ټانکونو پورې د ازادۍ لپاره بسیج شي او په یوه واقعي جګړه کې د یهودي رژیم ریښې له بېخه وباسي؛ نه دا چې پر محدودو او سمبولیکو بریدونو بسنه وشي، چې خورا کم زیان رسوي، خو د دوی شتون خوندي ساتي.

لبنان هم دا حق لري چې پوځونه یې د ملاتړ لپاره راټول شي، د اشغالګرو د شړلو لپاره هڅې وکړي او د خپلو شهیدانو د وینو غچ واخلي؛ نه دا چې یوازې پر نمایشي جشنونو، تشو او له شعاره ډکو ویناوو یا کمرنګو او پټو پوځي مرستو بسنه وشي.

د مسلمانانو د پوځونو په لیکو کې پر هر ازاد او شریف انسان لازمه ده چې د ظالمو حکامو د نسکورولو او د نبوت پر منهج راشده خلافت د بیا احیا لپاره د مخلصو دعوتګرو له کاروان سره یوځای شي. هغه خلافت چې اسلامي امت به متحد کړي او د فلسطین او لبنان د ازادۍ لپاره به پوځونه ولیږي، ترڅو دغه اشغال شوې سیمې له یهودو پاکې کړي. که داسې ونه شي؛ امت به لاهم د وینو، دردونو او ویجاړۍ په سمندر کې ډوب پاتې وي.

**د حزب التحریر۔ مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۱۴مه**

**۲۰۲۴م کال، د نومبر ۱۶مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۶/ ۰۴۸**

**ژباړن: اسرار تکل**